دسیاست پوهنی دلومړی سمستر لکچر
نوټ: استاد: محترم. ذبح الله [ذاهد]
راټولونکی: سید انعام الله متحیر.

سیاست له دوو کلمو څخه اخیستل شوی چی یو یی ساس او بل یی سوس ده چی اداره کولو ته وایی یعنی دځان ټولني او کورنی اداره کولوته سیاست وایی په انګلیسی ژبه کی ورته poletiks وایی.حوکمت دسیاست یوه برخه ده دسیاست مفهوم پراخه دی

سیاست پوهنی لکچر نوټ

دسیاست اساس د آدم ع څخه اخیستل
شوی .او غربی سیاست دیونان څخه
پیل شوی. په لرغونی یونان کی
نیکمرغی ته دانسان رسیدلو ته سیاست
وایی په منځنیو پیړیو کی دریښتنی
انسان جوړیدل وو
په نوی عصر کی آزادی او قدرت ته
دانسان رسیدل سیاست دی

ددرس دوام

په نوی عصر کی آزادی او قدرت ته دانسان رسیدل ته سیاست وایی.

دامام غزالی رح په نزد سیاست سیاست دانسان ددنیا او آخرت د نیکمرغیو ته درسیدلو نوم دی

جرمنی عالم ماکس ویبر سیاست داسی تعریف کوی. سیاست دانسان په قدرت کی دګډون کولو په معنا دی

ادامه......

- مور کانتاوایی: سیاست دقدرت لپاره مبارزه ده.
- امریکایی عالم رابرت دال وایی: سیاست دانسان یو نه انکاریدونکی حقیقت دی
- نولی وایی: سیاست دشته امکاناتو غوره کاره ونه او دکمو امکاناتو زیاده کارونه ده
- هار ورډلاسویل وایی: سیاست بعنی په دی پو هیدل چی خوک یی کټی کټی څه شی کټی څنګه کټی

دسیاست او سیاست پوهنې تو پیرونه

سیاست پوهنه تیوري ده او سیاست عمل دی
سیاست پوهنه علم دی او سیاست هنر
سیاست پوهنه ټاکلی ده او سیاست نا ټاکلی دی.
یادونه: دنورو لپاره کتاب ته مراجعه وکړی

دسایست پوهنی تعریف

سیاست پوهنه ددولت دبنسټونو او دحکمت له اصولو څخه بحث کوی.
ددولت بنسټونه لکه: اوبه خاوره نفوس ....
دحکمت اصول لکه: قوانین انتخابات درګونی قو وا وی ...

ادامه .....

- سیاست علم ده او کنه؟
- علم نه ده ځکه: سیاست پوهنان دسیاسی څیرونو لپاره یو نظر نه لری
- عالم نه ده ځکه: دسیاست پوهنی پایلی یو نه دی.
- علم نه ده ځکه: دسیاست پر مختګ تل پاتی نه ده. سیاست علم نه ده ځکه: سیاسی چاری پیچلی دی څیړنه یی سخته ده

ادامه ....

- سیاست علم ده ځکه: سیاست دټولنی سره سر او کار لری
- سیاست علم ده ځکه او ځکه یی پایله یوه نه ده چی دایډزپه اړه هم ډیری څیړنی وشوی خو پایله یی معلومه نه شوه نو سیاست علم دی. سیاست پوهنه ټاکلی اصول ری نو ځکه علم دی ......

دسیاست پوه او سیاست وال تو پیر

- سیاست پوه هغه شخص دی چی دسیاست پو هنی مو ضوعات یی زده وی یعنی عالم
- خو سیاست وال بیا عالم نه وی چی بنه مثال یی او سنی حٔینی سیاسون دی
- اسلامی سیاست: یوه داسی پوه هه ده چی که چیری بشریت کی عملی شی نو تول مشکلات به یی حل شی.

دسياست پوهنی څانګی

لومړی: سیاسی اندونه
دویم: حکمت
دریم: ګوندونه
څلورم: نړیوالی اړیکی
دغه څانګی پخوا وختونو.کی موجودی نه وی ولي له ۱۳۴۸ کال وروسته دغه څانګی ورته وټاکل شوی

ادامه

- سیاسی اندونه: دسیاست یو څانګه
- حکومت: اکثره عالمان وایی حکومت سیاست دی ځکه حکومت لاندی شیان لری. اساسی قانون،ملی حکومت، سمیز حکومت ...
- ګوندونه ډلی او ټولنی: ګوندونه دسیاسی موخو لپاره کارکوی خو ډلی دنظام اصلاح لپاره په دولت فشار اچوی
- نړیوالی اړیکی: دسیاست پو هنی زیاتره مو ضوعات نړیوالی اړیکی دی

دسیاست پو هنی دلو ستلو لاری

- لومړی تاریخی لار: تاریخ دسیاست لپاره خام مواد دی
تاریخ دراتلو نکی لپاره اصول ټاکی
دوهمه: کتنی لاره: دیوی پیښی مشاهده په خپلو سترګو او له هغی نه استفاده کول او دهغی پیښی بنه او بد سیاست معلو مولو لپاره مهمه لاره ده
دریمه: تجربی لار ږ له پخوانیو سیاستونو زده کړه کول دی.
څلورم: مقایسوی لاره یو حکومت له بل سره مقایسه کول دی
پنځمه: مقایسوی لاره اصول ټاکل او له منطق استفاده کول دی

دسیاست پوهنی اړیکی له نورو علومو سره

- هیڅ علم مکمل نه دی نورو علومو ته ظرورت لری نو سیاست هم له نورو علومو سره اړیکی لری.
- دسیاست پوهنی اړیکه له ټولنپو هني سره: یو یی له ټولنی سره اوبل یی له دولت سره اړیکه لری خو دواړه یو بل ته خام مواد ورکوی ټولنپوهنه دټولنیزو علومو پلار حیثیت لری. که سیاست وال دټولنی فکر مطالعه نه کړی نو له ماتی سره مخامخ کیږی تولنه باید مطالعه شی او بیا ورباندی حکومت وشی
- دټولنپوهنی ساحه نسبت سیاست پو هنی ته پراخه ده

سیاست پو هنی اړیکه له تاریخ او جغرافیی سره

- سیاست اوتاریخ: تاریخ دتیر مهال اصول تاکی خو ټول سیاستونه تاریخ نه دی
- سیاست پوهنه او جغرافیه: همیشه غټ جغرافیوی هیوادونه قوی دی او کو چنی جغرافیه وی هیوادونه کمزوری دی
- اقتصاد اړیکه له سیاست پوهنی سره: ټول غریب هیوادونه کمزوری سیاست لری ولی سرمایه دار هیوادونه قوی سیاست لری. نو اقتصاد دسیاست دملاتیر دی

له حقــوقو سره دسیاست اړیکه

...

- سیایت لپاره مشروعیت قانون او حقو قو ورکړی
- دژورنالیزم سره دسیاست اړیکه: ژورنالیزم دی چی سیاست انتقالوی او مور دسیاست څخه خبره وی

دسیاست پو هنی مفاهیم

- سیاست پوهنه شپږ مفاهیم لری
- سیاسی قدرت، اقتدار، مشروعیت، سیاسی کلتور، نوی والی
- دقدرت سر چینی
- دولتی او فردی
- محسو سی سرچینی
- نا محسوسی سر چینی
- په افغانستان کی دقدرت سرچینی

په افغانستان کی دقدرت سر چینی

- لومړی دقدرت سر چینه په افغانستان کی دین ده چی خلک ورباندی ډیر باور لری
- دویم قبیله په افغانستان کی دقدرت مهمه سر چینه ده
- دریمه سر چینه: شتمنی
- څلورمه سرچینه: تجربه هغه کسان چی مخکنی تجربی ولری
- بیو کراسی: په دولتی مقام کی ځای نیول

مشروعیت

- مشروعیت: دقانون په لاره تګ مشروعیت دی
- دمشروعیت سر چینې
- رواج: ځینی خلک مشروعیت لری خو قابلیت نه لری لکه.... قانونی واک نه لری خو خلکو په ځان منلی
- ځانګړیز: دځانګړتیا وو په اساس [۲
- قانونی: دقانون په اساس

دمشروعیت ډولونه

- مشروعیت په دری ډوله دی
؟
سازمانی چی دیو سازمان په ډول وی
شخصی
:دمنلو لاری
تو لنیزه لاره: په تو لنه کی داسی اعمال کول چی ټولنه ورڅخه رازی واوسی. لکه پګړی
دامنیت او اقتصاد لاره
:په موخه څارنه
روانی لاره

دقدرت او اقتدار ډولونه:

- اقتدار همیشه مشروع وي ولي قدرت کله مشروع وي او کله نا مشروع
- لومړی قانوني قدرت: چې دقانون په اساس منځ ته راځي
- دویم: دیني
- دریم: آسماني
- څلورم ارثي
- اونورو لپاره کتاب ته مراجعه وکړی

اقـــــــتدار

- اقتدار مشروع قدرت ته وایی
- په ډیمو کراتیکو ټو لنو کی اقتدار موجو د وی
- اقتدار سر چینی
- لومړی رواجی اقتدار
- دویم قانونی یا عقلی: هغه چی دخلکو په رایه واک ته رسیدلی وی
- ځانګړیز: یا ځانی خصو صیات
- ایډیالوژی: دخلکو ګډ فکر ته وایی

دجوړشت له مخی دقدرت ار ډولونه

- وګړیز قدرت
- سازمانی: دخلکو حکمت
- ځانی قدرت: لومړی سر کی ښه وی وروسته بد شی
- دبیلا بیلو بنستونو له مخی دقدرت ډولونه: بیداری
- دقانون په اساس
- سمیز: دابیا په یو اړخیز دوه اړخیز او څ اړ خیز
- دتمر کز په اساس
- دځمکی په اسای
- اجباری:: چی په جبر پلی کیږی

دواک کا رول

- کتاب کی واضح شوی
- خو بیا هم دمرسته تهدید لو پوری چاروکی
- اونورو دولونو په واسطه
-

یادونه

- دسیاست پو هنی مضمون سلایډونه تر همدې ځایه ما ترتیب کړل. نور نوټ هم لرم دکتاب تر پایه همدارنګه دنورو مضمونونو نوټونه معلومات هم کولی شم له تاسو سره یې شریک کړم دسیاست پو هنی نور پاتې سلایډونه. به هم انشا الله ج درته وسپارم
- زمو هر وخت خدمت کی یم

- ستاسو کشر ورور سید انعام الله متحیر دحقوقو پوهنځی ددوهم کال محصل
- دنورو معلو ماتو لپاره:۰۷۳۰۱۸۶۷۳۵
- ۰۷۹۶۰۵۴۷۱۸
- زما دوتساپ او مبایل شمیرو سره اړیکه ونیسی